
هفته واره رساله :356
WEEKLY BOOKLET:356

دامیرِ اهلِ سُنّت د کتاب "عاشقانِ رسول کی 130 حکایات" ته یو قسط

# د سُنّي عالمانو د مکے مدینے
# 17 واقعات

PASHTO



- ِمامِ احمد رضا او دِیدارِ مصطفٰے
- د مولانا سردار احمد د مدینے د کجورو سره مَحَبّت
- د سگِ مدینه خوشحالول
- قطبِ مدینه او غریب زائرِ مدینه


شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنّت بانئِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال
محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د سُنّي عالِـمانو د مکّے مدينے 17 واقعات [1]

**دُعائے عطّار:** يا رَبَّ الـمصطفٰے! څوک چې دا رساله " د سُنّي عالِـمانو د مکے مدينے 17 واقعات " ولولي يا واوري، د هغهٔ بيا بيا حج او د مدينے منورې ديدار نصيب کړې او هغهٔ سره د موره او پلاره بے حسابه اوبخښې- اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** چا چې پهٔ ورځ او شپه کښې پهٔ ما باندې د شوق او مَحَبَّت له وجهې درې درې کرته دُرُودِ پاک ولوستو، پهٔ اللّٰه پاک باندې حق دے چې هغهٔ د هغهٔ د هٰغې ورځې او هٰغې شپې ګناهونه معاف کړي- (معجم کبير ، 362/18، حديث: 928)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿1﴾ د اعلیٰ حضرت والدِ محترم ته خصوصي بلنه راغله

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه والدِ محترم حضرت علامه مولانا مفتي نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير لوئي مفتي او عاشقِ رسول وو، د " اپنا جانا اور ہے اُن

[1] ـــــ دا مضمون د کتاب "عاشقانِ رسول کی 130 حکايات" صفحه 144 نه 166 پورې نه اخستے شوے دے-

کا بلانااور ہے [يعني پخپله تلل بيله خبره ده او د هغوئي رابلل بيله خبره ده] “ پهٔ مِصداق مولانا نقي علي خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ته د مدينے منورې د حاضرۍ د پاره خصوصي بلنه راغله او هغه داسې چې پهٔ خوب کښې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم راطلب کړو: د بيمارۍ او کمزورۍ باوجود د يو څو خپلوانو سره يــې د سفر سامان راواخستو او د حرمين شريفين پهٔ لور روان شو، بعضې عقيدت مندو د بيمارۍ له وجهې مشوره ورکړه چې دا سفر به راتلونکـي کال وکړئ- اوئې فرمائيل: ”چې د مدينے منورې پهٔ اراده د دروازے نه قدم بهر کيږدم نو بيا که رُوح هم هٔغه وخت د تَن نه لاړ شي نو خير دے-“ محبوبِ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل عاشق د مَحَبَّت د جذبې لاج وساتلو او پهٔ خوب کښې يــې پهٔ يو لوښي کښې دوائي ورعطا کړله د کومې د خوړلو سره چې دومره ښه شو چې د مناسِکِ حج پهٔ ادا کولو کښې څهٔ خنډ [يعني رکاوټ] رانغلو- (سُرور القلوب ”د“)د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِیۡن بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِیۡن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

بُلاتے ہیں اُسی کو جس کی بگڑی یہ بناتے ہیں
کمر بندھنا دِیارِ طیبہ کو کھلنا ہے قسمت کا

(ذوقِ نعت، ص37)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿2﴾ پۀ اصل كښې مُراد حاضِري د هٰغه پاک دَر ده

عاشقِ ماهِ رسالتِ اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دين وملّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د حج پۀ خپل دويم سفر كښې د مناسكِ حج ادا كولو نه پس سخت بيمار شو خو اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي چې د بيمارۍ پۀ اوږديدو كښې زما سره زيات فِكر د سركارِ اعظم (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د حاضرۍ وو- چې كله مې وليدله چې تَبه مې اوږده شوه نو ما هم پۀ هٰغه حالت كښې د حاضرۍ اراده وكړه، پۀ دې علمائے كرامو (رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم) منع كولم- اول خو يـې راته دا ووفرمائيل چې ”حالت خو ستاسو دا دے او سفر اوږد دے“ ما عرض وكړو: ”چې كه رښتيا وايم نو د حاضرۍ اصلي مقصد زيارتِ طيبه دے، دواړه ځل پۀ دې نيت د كور نه راوتے يم، مَعَاذَ الله! كه دا اونشي نو د حج هيڅ خوند نشته-“ هغوئي بيا بار بار ووئيل او زما حالت يـې ما ته راياد كړو- ما حديثِ پاک ولوستو: ”مَنۡ حَجَّ وَلَمۡ يَزُرۡنِيۡ فَقَدۡ جَفَانِيۡ “ چا چې حج وكړو او زما زيارت يـې ونكـړو هغۀ زما سره جفا وكړه- (كشف الخفاء، 2/218، حديث:2458) اوئې فرمائيل: تا خو يو ځل زيارت كړے دے- ما ووئيل: زما پۀ نزد د حديث دا مطلب نه دے چې پۀ عُمر كښې څومره هم حجونه وكړې زيارت يو ځل كافي دے بلكې د هر حج سره زيارت ضرور دے، اوس تاسو دعا وكړئ چې زۀ سركار (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ته ورسيږم- چې روضه مباركه يو نظر ووينم نو كه بيا هٰغه وخت رُوح هم د تن نه جدا شي [نو خير دے]- (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص 201 )

کاش! گنبدِ خضرا پر نگاہ پڑتے ہی کھا کے غش میں گِر جاتا پھر تڑپ کے مَر جاتا
(وسائل بخشش، ص410)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿3﴾ اِمام احمد رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او دِیدارِ مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم

امامِ اهلِسُنَّت مجدِّدِ دين وملّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زبردست عاشقِ رسول وو او د عِلم يو درياب وو، پۀ کمو او زياتو 100 علوم او وفنون باندې يې عبور لرلو، د حَرَمينِ طيبين علمائے کرامو اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته د څوارلسمې صدۍ مُجدِّد ووئيلو، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دين د باطِل د ملاوټ نه پاک کړو او د سُنَّت ژوندي کولو د پاره يې زبردست کار وکړو، ورسره ورسره يې د خلقو پۀ زړونو کښې چې د عشقِ رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کومه شمع پۀ ورو ورو تَته کيدله هغه يې د نوي سر نه بيا بَله کړه، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بے شکه د فنا فِي الرَّسُول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اعلیٰ منصب ته رسيدلے وو، پۀ دويم ځل چې يې کله د بيتُ الله شريف د حج سعادت او مدينے منورې ته حاضري نصيب شوه نو د بيدارۍ پۀ حالت کښې د زيارت ارمان پۀ زړۀ کښې د ساتلو سره ټوله شپه پۀ مُواجهه شريف کښې حاضر وو او د دُرُودِ پاک وِرد يې کولو، پۀ وړومبۍ شپه يې پۀ قِسمت کښې دا سعادت نه وو، دويمه شپه راغله- مُواجهه شريف ته حاضر شو او د جدايۍ پۀ غم کښې يې پۀ ليوالتيا سره يو نعت شريف پيش کړو د کوم يو څو شعرونه چې دا دي:

وہ سُوئے لالہ زار پھرتے ہیں تیرے دِن اے بہار پھرتے ہیں

ہر چَراغِ مَزار پر قُدسی
کیسے پروانہ وار پھرتے ہیں
اُس گلی کا گدا ہوں میں جس میں
مانگتے تاجدار پھرتے ہیں
پھول کیا دیکھوں میری آنکھوں میں
دشتِ طیبہ کے خار پھرتے ہیں
کوئی کیوں پوچھے تیری بات رضا
تجھ سے شیدا ہزار پھرتے ہیں

(پۀ مَقطع کښې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عاجزۍ پۀ طور خپل ځان ته "کُتا [یعني سپے]" فرمائیلے دے خو د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عاشقان د ادب پۀ طور دلته "منگتا" "شیدا" وغیره لیکي او وائي- هم د هغوئي پۀ پیروۍ کښې مو دلته د ادب پۀ طور "شیدا" لیکلے دے او حقیقت هم دغه دے) هغوئي پۀ بارگاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې دُرُود او سلام وړاندې کولو، آخر د انتظار وختونه ختم شول او بخت یـې رابیدار شو، سرکارِ نامدار، د مدینے تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خپل عاشق باندې خاص کرم ووفرمائیلو، د مخ نه یـې پرده لرې کړه، خوش قِسمته عاشق د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عین د بیدارۍ پۀ حالت کښې د سر پۀ سترګو دیدار وکړو- د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيْنْ بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

شربتِ دِید نے اور آگ لگا دی دِل میں
تَپِش دِل کو بڑھایا ہے بُجھانے نہ دیا
اب کہاں جائیگا نقشہ ترا میرے دِل سے
تہ میں رکھا ہے اِسے دِل نے گمانے نہ دیا
سجدہ کرتا جو مجھے اس کی اجازت ہوتی
کیا کروں اِذن مجھے اِس کا خُدا نے نہ دیا
(سامان بخشش، ص71)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ ټولو له هم پکار دي چې په خپل زړهٔ کښې د مدینے د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مَحَبَّت زيات کړو او په سینه کښې د دیدار ارمان ته وده ورکړو- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! چرته خو به زمونږه بخت هم رابیدار شي- چرته خو به خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم ووفرمائي-

سنا ہے آپ ہر عاشق کے گھر تشریف لاتے ہیں
کبھی میرے بھی گھر میں ہو چراغاں یارسولَ اللہ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د مشهور عاشقِ رسول علّامه یوسُف بن اسمٰعیل نَبهَاني د ادب انداز

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه خلیفه، فیقهِ اعظم، حضرت علّامه ابو یوسف محمد شریف مُحدِّثِ کوټلَوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: یو ځل چې کله زهٔ حج له لاړم نو د مدینے منورې په حاضرۍ کښې د شین ګنبد د دیدار په وخت ما د "بابُ السّلَام" سره نزدې او د ګنبدِ خضرا مخې ته یو سپین ګیرے او ډیر د نوراني مخ والا بزرګ ولیدو چا چې د قبر مبارک په لور مخ کړے وو او په دواړو زنګونانو [یعني د التحیات په شکل کښې] ناست وو او ثنهٔ یې لوستل- په پوښتنه کولو پته ولګیده چې دا مشهور او معروف عالِمِ دین او زبردست عاشقِ رسول حضرت شیخ یوسُف بن اسماعیل نَبهَاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه

دے- ما چې د هغوئي ښکلے ښائسته او نوراني مخ وليدو نو ډير متاثره شوم او د هغوئي په خوا کښې کښيناستم او د هغوئي سره مې د خبرو کولو کوشش وکړو، شيخ يوسُف بن اسماعيل نَبهَاني رَحمَةُ اللهِ عَلَيه چې زما په لور متوجه نه شولو نو ما هغوئي ته ووئيل چې زۀ د هندوستان نه راغلے يم او ستاسو کتابونه ''حُـجَّةُ الله عَلَى العالـمين '' او ''جَواهِرُ البحار'' وغيره ما لوستلي دي چې له وجهې يـې زما په زړۀ کښې ستاسو ډير عقيدت دے- هغوئي چې دا خبره واوريده نو زما سره يـې په مَحَبَّت سره مصافحه وکړه- ما هغوئي ته عرض وکړو: حُضُورا! تاسو د قبر مبارک نه دومره لرې ولې ناست يئ؟ نو په ژړا شو او اوئې فرمائيل: ''زۀ د دې لائق نه يم چې ورنزدې شم-'' د دې نه پس به اکثر زۀ د هغوئي د پاتې کيدو ځائے ته حاضريدم او د هغوئي نه مې ''د حديث سَند'' هم حاصل کړو- سيّدي قطبِ مدينه حضرت علّامه شيخ ضياء الدِّين احمد مَدَني رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: د حضرت علّامه يوسُف نَبهَاني رَحمَةُ اللهِ عَلَيه کور وداني محترمې رَحمَةُ اللهِ عَلَيها ته 84 کَرَته د نبيِ آخرُ الزّمان، شهنشاهِ کون و مکان صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زيارت شرف حاصل شوے دے-

(انوارِقطبِ مدينه، ص 195 ملخصاً)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغې باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ان کے دیار میں تُو کیسے چلے پھرے گا؟ عطّارؔ تیری جُرأت! تُو جائے گا مدینہ

(وسائلِ بخشش، ص 320)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿5﴾ د حِمرا دَرې پۀ مقام د پير مهر علي شاه د ګنبدِ خضرا د اوسيدونکي زيارت

د ګولړه شريف تاجدار حضرت پير مهر علي شاه صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د مدينۀ عاليه پۀ سفر کښې د حِمرا دَرې پۀ مقام د ډاکوانو د حملې د پريشانۍ پۀ وجه مجبوراً زما نه د ماسخوتن سُنَّت پاتې شول، مولوي محمد غازي پۀ مدرَسۀ صَولتيه کښې د تعليم او تدريس مشغله پرېښودې وه او د ښه ګمان پۀ طور د خدمت پۀ غرض پۀ دې مقدس سفر کښې زما سره شريک شوے وو- زۀ د دې ملګرو سره د قافلې يو اړخ ته اوده شوم نو څۀ ګورم چې سرورِ عالم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم توره عَرَبي چغه اغوستې ده او د تشريف راوړلو سره ما ته نوے ژوند راعطا کوي، داسې معلومه شوه چې زۀ پۀ يو جومات کښې د مراقبې پۀ حالت کښې پۀ دواړو زنګونانو [يعني د التحيات پۀ شکل کښې] ناست يم، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوا له تشريف راوړلو او ارشاد يې ووفرمائيلو چې آلِ رسول ته سُنَّت پرېښودل نه دي پکار- ما پۀ دې حالت کښې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دواړه پندۍ مبارکې کومې چې د ريښمو نه هم زياتې نرمې وې پۀ خپلو دواړو لاسونو مضبوطې ونيولې او د زړا فرياد سره مې اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُولَ الله وئيل شروع کړل او د مدهوشۍ پۀ حالت کښې مې عرض وکړو چې حُضور څوک دے؟ پۀ جواب کښې هم هُغه ارشاد شول چې آلِ رسول ته سُنَّت پرېښودل نه دي پکار- درې کرته هم دغه سوال او جواب وشو- پۀ دريم ځل زما پۀ زړۀ کښې دا خبره واچولے شوه چې هغوئي د يَا رَسُولَ الله

د نعرې نه نۀ منع کوي نو ظاهره ده چې پخپله رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، که څوک بَل بزرګ وے نو هغوئي به د دې کلمې وئيلو نه منع کړے وے، د هٰغه حُسن او جمالِ باکمال په باره کښې به څۀ وايم! د هٰغې ذوق او مستیِ د کرم د فيضان بيانولو نه ژبۀ عاجزه ده او ليکل ناچاره دي- البته د عشق او مَحَبَّت د شرابو څښونکو په حلق کښې د دې شعرونو نه يو ګوټ او د هٰغه مشکو د تيلی نه يوه ښکلې خوشبوئي اچول مناسبه معلوميږي- (مہرِ منیر ، ص 131 تا 132) حضرت پير مهر علي شاه صاحب رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د ذِکر شوې واقعې پۀ لړ پۀ خپل مشهور کلام کښې هم اشاره کړې ده- د هغې يو څو شعرونه وګورئ:

اَج سِک مِتراں دی وَدھیری اے | کیوں دِلڑی اُداس گھنیری اے!
لُوں لُوں وِچ شوق چنگیری اے | اَج نَیناں لائیاں کیوں جھڑیاں
اَلطَّیفُ سَریٰ مِنۡ طلعتہٖ | وَالشَّذۡوُ بَدیٰ مِنۡ وَّفرتہٖ
فَسَکَرۡتُ ھُنَا مِنۡ نَّظۡرتہٖ | نَیناں دیاں فوجاں سرچڑھیاں
مُکھ چند بدر شَعشانی اے | متھے چمکے لاٹ نورانی اے
کالی زُلف تے اَکھ مستانی اے | مخمور اَکھیں ہِن مَدھ بھریاں
دو اَبرُو قوس مثال دِسّن | جیں توں نوکِ مِژہ دے تیر چھٹن
لباں سُرخ آکھاں کہ لعلِ یمن | چٹے دَند موتی دِیاں ہِن لڑیاں
اِس صورت نُوں میں جان آکھاں | جانان کہ جانِ جہان آکھاں
سچ آکھاں تے ربّ دی شان آکھاں | جِس شان توں شاناں سب بنیاں
لاہو مکھ توں مخطط بُردِ یَمن | مَن بھانوری جھلک دِکھاؤ سجن

اوہا مٹھیاں گالیں الاوَ مٹھن
جو حمرا وادی سَن کریاں

سُبحٰن اللہ! مَا اَجْمَلَکَ
مَا اَحسنکَ مَا اَکْمَلَکَ،

کتھے مہر علی کتھے تیری ثنا
مُشتاق(2) اَکھیں کتھے جا اَڑیاں

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿6﴾ د سکِ مدينه خوشحالول

د پنجاب (پاكستان) مشهور عاشقِ رسول بزرگ پير سيِّد جماعت علي شاه محدِّث علي پوري رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه يو ځل مدينے منورې ته لاړو نو د هغوئي يو مُريد د مدينے منورې يو سپے اتفاقاً پۀ لوټه ويشتو د كومې سره چې سپي چغې كړې، حضرت شاه صاحب ته چا ووئيل چې ستاسو فلانكي مُريد د مدينے منورې يو سپے ويشتے دے- دا يې چې واوريدل نو حضرت شاه صاحب رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه نا قلاره شو او خپلو مُريدانو ته يې حكم وكړو چې فوراً هُغه سپے ولټوئ او دلته يې راولئ- نو سپے راوستے شو، شاه صاحب رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه پاڅيدو او پۀ ژړا شو او هُغه سپي ته مخاطِب شو او اوئې وئيل: اے د يار د كوڅې اوسيدونكيه! د الله پاك پۀ خاطر زما د مُريد دا خطا معاف كړه- بيا يې ورته كړے شوې غوښه او پے راوغوښتل او پۀ هغه يې وخوړل وڅښل، بيا يې هغه ته ووئيل: جماعت

---

2 ... حضرت پير مهر على شاه رحمۃُ اللہِ علیه د عاجزئ پۀ طور دلته لفظ " گستاخ" ليكلے دے (مهر منير، ص 500) خو د حضرت د ادب كولو سره اكثر نعت خوانان چې څنګه لولي هم هُغسې ما ليكلے دے-

علي ستا نه معافي غواړي، د خدائے د پاره دے معاف کړه-

(سنّی علماء کی حکایات، ص 211 ملخصاً)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِيۡن بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِيۡن صلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

دل ٹکڑے نذر حاضر لائے ہیں　　اے سگانِ کوچۂ دلدار ہم

(حدائقِ بخشش، ص 84)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب!　صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿7﴾ چې آقا اوبلي نو په هوا تلل پکار دي

د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خليفه، فيقهِ اعظم، حضرت علّامه ابو يوسف محمد شريف مُحدِّثِ کوټلَوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د زړۀ ټوټۀ حضرت مولانا ابو النُّور محمد بشير رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: حضرت اميرِ ملّت پير سيِّد جماعت علي شاه مُحَدِّث علي پوري (رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه) ډير حجونه کړي وو، تقريباً هر کال به د مدينے منورې عشق هغوئي په دې شرف مُشرَّف کول- يو کال پير سيِّد جماعت علي شاه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د هوائي جاز په ذريعه د حج د سفر ترکيب جوړ کړو- والدِ مُعظَّم (فقيهِ اعظم حضرت علّامه مولانا محمد شريف محدِّث کوټلوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه) ته چې معلومه شوه نو زۀ يې د ځان سره کړم او علي پور شريف ته لاړو، د حضرت په خدمت کښې حاضر شو، نو هغوئي د مدينے منورې ذِکرِ خير کولو، والدِ محترم يې چې وليدو نو ډير خوشحاله شو او اوئې فرمائيل: زۀ بيا د سرکارِ عالي وقار، د مدينے د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې د حاضرۍ د پاره ځم، والدِ محترم

رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ترينه پوښتنه وکړه چې حضورا دا ځل مې اوريدلي دي چې تاسو په هوائي جاز کښې ځئ؟ حضرت جواب ورکړو: مولوي صاحب! چې يار اوبلي نو په هوا تلل پکار دي- دا جُمله يې په څه داسې انداز کښې ووفرمائيله چې پخپله يې هم په سترګو کښې اوښکې راغلې او په حاضرينو هم يو سرور راخور شو- (سُنّی عُلماء کی حکایات، ص 45) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِیۡن بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِیۡن صلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

تقدیر میں خُدایا عطارؔ کے مدینہ
لکھ دے فقط مدینہ سرکار کا مدینہ
(وسائلِ بخشش ، ص 302)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿8﴾ د مولانا سردار احمد د مدينے د کجورو سره مَحَبَّت

د محبوب د ښار سره مَحَبَّت د رښتوني عاشق علامت دے لهٰذا عظيم عاشقِ رسول حضرت محدِّثِ اعظم پاکستان مولانا سردار احمد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به د مدينے منورې سره ډير زيات مَحَبَّت کولو- د هغوئي په محفل کښې به اکثر د محبوب د ښار ذِکر کيدلو- که څوک د مدينے زيارت کوونکے به د هغوئي په خدمت کښې حاضريدلو نو مولانا سردار احمد صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به د هغوئي نه د مدينے منورې د حالاتو پوښتنه کوله، د مدينے منورې د اوسيدونکو عاشقانِ رسول خيريت به يې معلومولو او که چا به څهٔ

تبرک وړاندې کولو نو ډير پۀ خوشحالئ به يـې قبلولو- يو ځل يو حاجي صاحب د مدينے منورې کجورې وړاندې کړې، هُغه وخت د دورۀ حديثِ جاري وه، د مدينے منورې کجورې يـې حاضرو طالبِ علمانو له ورکړلې او يوه کجوره يـې پۀ خپلو غاښونو کښې اونيوله او اوئې فرمائيل: "د مدينے منورې کجوره مې پۀ خُله کښې کيښودې ده، تر څو پورې چې وِيلې کيږي او دننه ځي نو ايمان به تازه کيږي-"

(حيات محدث اعظم پاکستان، ص155 ماخوذاً)

کھجورِ مدینہ سے کیوں ہو نہ الفت
کہ ہے اس کو آقا کے کوچے سے نسبت

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿9﴾ پۀ مدينه منوّره کښې يـې خپل ويښته او نوکان دفن کړل

حضرت محدِّثِ اعظم پاکستان مولانا سردار احمد رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: فقير د مدينے منورې نه پۀ واپسئ خپل څۀ ويښته او نوکان پۀ مدينه منوّره کښې دفن کړل او پۀ بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې يـې عرض وکړو: "يَا رسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! پۀ مدينه منوّره کښې مړه کيدل خو زما پۀ اختيار کښې نه دي البته د خپل وجود څۀ حصې دفن کووم او ځم، زمونږ د غريبانانو د پاره دا هم يو غنيمت دے-"

(حيات محدث اعظم پاکستان، ص 155 ماخوذاً)

جان و دل چھوڑ کر یہ کہہ کے چلا ہوں اعظمؔ
آرہا ہوں مرا سامان مدینے میں رہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿10﴾ اوس د مدینے منورې نه علاوه مونږ ته نور هیڅ نه دي یاد

مولانا قاضي مظهر الحق جهلمي د کوئټې پهٔ لاره د زاهدان، بغداد شریف، مدینے منورې او د نورو مقدسو ځایونو زیارت وکړو او د حضرت محدِّثِ اعظم پاکستان مولانا سردار احمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ خدمت کښې حاضر شو، چې کله د قاضي صاحب تعارف وکړے شو (او عرض وکړے شو چې دوئي مدینے منورې ته حاضري کړې ده او راغلے دے) نو د قاضي صاحب لاس یے ونیولو، د مولانا سردار احمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سترګو نه اوښکې رواني شوې، اګر چې طبیعت یے ډیر ناسازه وو، پهٔ بیمارۍ کښې یے اضافه شوې وه، خو د دې باوجود مولانا سردار احمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پاڅیدلو او بیا کښیناستلو او د قاضي صاحب نه یے د مدینے منورې پهٔ باره کښې تپوسونه شروع کړل، پهٔ مدینه منوَّره کښې د اوسیدونکو ملګرو اهلِسُنَّت و جماعت خیریت یے معلوم کړو، د مدینے منورې کوڅې یے رایادې شوې، د ګنبدِ خضرئ نوراني منظر یے پهٔ سترګو کښې ګرځیدو، د مقدسو جالو جلوے یے زړهٔ ته کوزیدلې، د روضه اقدس وقار پهٔ زړونو باندې راخور شو، د خدائے د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کلي د خیالونو پهٔ نوراني دَرو کښې ورک شو او د ټول محفل کیفیت دا شو چې

غیروں کی جفا یاد نہ اپنوں کی وفا یاد
اب کچھ بھی نہیں ہم کو مدینے کے سوا یاد

(حیات محدث اعظم پاکستان، ص 155 تا 156)

د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيۡن بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِیۡن صلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿11﴾ د مدينے منورې مُسافِر د هندوستان نه مدينے منورې ته ورسيدو

حضرت علّامه مولانا سيِّد محمد نعيم الدِّين مُراد آبادي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه زبردست عاشقِ رسول وو- د هغوئي پۀ باره كښې دا ايمان تازه كوونكې واقعه سگِ مدينه عُفِي عنه ته د هغوئي څوم حكيم سيِّد يعقوب علي صاحب (مرحوم) بيان كړې وه: د قرآنِ كريم مشهور مفسر، حكيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه د بيتُ اللّٰه شريف د حج د پاره تشريف يوړلو- چې كله هغوئي د مدينے منورې د سركارِ نامدار صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار كښې حاضر شولو نو د شنو جنګلو خوا كښې يـې وليدل چې حضرت صَدرُ الاَفاضِل رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه هم پۀ راجمع شوؤ خلقو كښې موجود دے- د ملاقات همت اونه شو ځكه چې با ادبه خلق هلته خبرې اترې نه كوي- د صلوٰة او سلام نه د فارغيدو نه پس يـې بهر ولټولو خو زيارت اونه شو- د حضرت شيخُ الفضيلت، شيخُ العَرَبِ وَالعجم قطبِ مدينه سيِّدي و مولائي ضياء الدِّين احمد قادِري رضوي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه دربار ته حاضر شو چې د عَرَب او عجم علمائے حق او

مشائخِ کرام به د حَرَمَینِ طیبین د حاضرئ پهٔ موقع د حضرت شیخُ الفضیلت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د زیارت د پاره ضرور حاضریدل- هلته هم د حضرت صَدرُ الافاضِل رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه پهٔ باره کښې هیڅ معلومات حاصل نه شول- حیران وو چې صَدرُ الافاضِل رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه که تشریف راوړے دے نو آخر چرته لاړو! هم پهٔ هٰغه وخت د مُراد آباد (هندوستان) نه یو خط د حضرت شیخُ الفضیلت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه دربار ته راغلو چې پهٔ فلانکی ورځ، پهٔ فلانکې وخت حضرت صَدرُ الافاضِل مولانا نعیمُ الدِّین صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه پهٔ مُراد آباد کښې د دُنیا نه پرده فرمائیلې ده- حضرت مفتي احمد یار خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه چې کله د وخت اندازه ولګوله نو هم هٰغه وخت وو کله چې د شنو جنګلو سره نزدې صَدرُ الافاضِل رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه پهٔ نظر راغلے وو، فوراً پوهه شو چې څنګه یې رحلت ووفرمائیلو نو پهٔ بارګاهِ رسالت صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې د صلوٰة او سلام د پاره حاضر شو-

مدینے کا مُسافِر ہند سے پہنچا مدینے میں   قدم رکھنے کی نَوبَت بھی نہ آئی تھی سفینے میں

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿12﴾ اے د مدینے منورې درده ستا ځائے زما پهٔ زړهٔ کښې دے

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه پهٔ کال 1390ھ کښې د حج او د مدینے منورې د زیارت

سعادت حاصل کړو، پهٔ دې باره کښې د مدينے منورې د سفر يوه ايمان تازه کوونکې واقعه بيانوي او فرمائي: زهٔ پهٔ مدينهٔ منوَّره کښې وخوئيدم او د ښي لاس د مړوند هډوکے مې مات شو، چې درد زيات شو نو ما هغه ښکل کړو او اومې وئيل: اے د مدينے درده ستا ځائے زما پهٔ زړهٔ کښې دے نو تهٔ خو ما ته د يار د دروازے نه ميلاؤ شوے يې-

تِرا دردمیرا دَرماں تِرا غم مِری خوشی ہے مجھے دردِ دینے والے تری بندہ پَروَری ہے

درد خو هُغه وخت غائب شو خو لاس مې کار نه کولو، 17 ورځې پس مې پهٔ مُستَشفٰی مَلِک يعني پهٔ شاهي هسپتال کښې ايکسرے وکړه نو هډوکے دوه ځائے مات وو پهٔ کومو کښې چې لږه فاصله ده خو مونږ علاج ونکړو، بيا پهٔ ورو ورو لاس کار هم شروع کړو، د مدينهٔ منوَّره زَادَها اللّٰهُ شَرَفاً وّ تَعْظِيْماً د هُغه هسپتال ډاکټر محمد اسماعيل ووئيل چې دا خاص کرم شوے دے چې دې لاس پهٔ طِبي لحاظ سره حرکت هم نشو کولے، هُغه ايکسرے زما سره ده، هډوکے تر اوسه پورې مات دے، پهٔ دې مات لاس باندې تفسير ليکم، ما د دې خپل مات لاس علاج صرف دا وکړو چې پهٔ آستانهٔ عاليه کښې ودريدم او عرض مې وکړو چې حضورا! زما لاس مات شوے دے، اے د عبدُ اللّٰه بِن عَتِيک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پنډۍ وروستونکيه! اے د مُعَاذ بِن عَفرَاء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مات مَټ وروستونکيه (خوږه محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم !) زما مات لاس ورولئ! (تفسيرِ نعيمى، 388/9) د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

چاند کو توڑ کے پھر جوڑنے والے آجا
ہم بھی ٹوٹی ہوئی تقدیر لئے پھرتے ہیں

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿13﴾ پۀ جَنَّتُ البقيع كښې د مړو بدلول

حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پۀ حج كښې زما سره يو پنجابے بزرګ وو د چا نوم چې صوفي محمد حُسين وو، هغۀ ما ته ووفرمائيل چې يو ځل زۀ د شاه عبدُ الحق مهاجِرِ الٰه آبادي پۀ خدمت كښې حاضر شوم او عرض مې وكړو چې پۀ حديث شريف كښې خو راغلي دي چې "زمونږه مدينه بهتيِ ده لكه څنګه چې بهتيِ د اوسپنې نه زنګ لرې كوي هم داسې د مدينے زمكه نا اهله د خپل ځان نه اوباسي-" حالانكې مُرتد او منافقان خلق هم پۀ مدينه منوَّره كښې مره كيږي او هم دلته دفن كيږي نو بيا د دې حديث مطلب څۀ دے؟ شاه صاحب زۀ د غوږ نه ونيووم او بهر يې ووېستم! زۀ حيران شوم چې زۀ پۀ څۀ قصور راوېستے شوم! د شپې مې پۀ خوب كښې وليدل چې د مدينے منورې پۀ هديره يعني جنتُ البقيع كښې كدائي كيږي او پۀ اوښانو د بهر نه مړي راوړے كيږي او څۀ مړي د دې ځائے نه بهر وړے كيږي- زۀ د هغه خلقو خوا له لاړم او پوښتنه مې ترينه وكړه چې څۀ كوئ؟ هغوئي ووئيل چې "كوم نا اهله دلته دفن شوي دي هغوئي بهر اوباسو او د مدينے د عاشقانو دغه مړي كوم چې پۀ نورو ځايونو كښې دفن شوي دي هغه دلته راوړو-" پۀ دويمه ورځ زۀ بيا د شاه صاحب پۀ خِدمت كښې حاضر شوم، هغوئي

چې زهٔ څنګه ولیدم نو اوئې فرمائیل چې اوس پوهه شوې! د حدیث مطلب دا دے او پرون تا پهٔ اغیارو کښې د راز پوښتنه کړې وه د کومې چې تا له سزا درکړے شوې وه- (تفسیرِ نعیمی،766/1) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِيۡنۡ بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِيۡن صلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

بقیعِ پاک میں عطارؔ دفن ہو جائے
برائے غوث و رضا از پئے ضیا یارب
(وسائلِ بخشش ، ص 95)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿14﴾ پهٔ غزالِي زَمان او پهٔ مفتي احمد یار خان باندې د دوارو جهانونو د سلطان صلی الله علیه واٰلهٖ وسلم اِحسان

یو ځل د حضرت شیخ علاؤ الدّین اَلبکرِي اَلمَدني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د والدِ محترم حضرت شیخ علي حُسین مَدَني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه پهٔ ځائے مدینه منوَّره کښې محفلِ میلاد راجوړ کړے شو کوم چې ډیر د ذوق نه ډک وو او انوارِ نبي بښه ډیر وځلیدل- د محفل پهٔ ختمیدو د محفل مشر تبرکاً ځلوبې تقسیم کړې او اوئې فرمائیل: د میلاد ځلوبې خوړلو والا به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ! نن شپهٔ د تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نُبُوّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زیارت کوي، سبا سحر وختي دې د سحر د نـمونځ نه پس پهٔ مسجدُ النبوِيّ الشریف کښې هر یو د خپل دیدار حالات بیان کړي- د حاجي غلام حُسین مَدَني مرحوم بیان دے: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ما هم هُغه ځلوبې خوړلې وې، زما د سرکارِ نامدار، د

مدينے د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو، ما پهٔ دې حال کښې د حضورِ پاک، صاحبِ لولاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت وکړو چې ښي اړخ ته يـې پهٔ ترخ کښې (غزالي زمان رازيِ دَوران) حضرت قبله سيِّد احمد سعيد کاظمي شاه صاحب (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) دے او بَل اړخ ته يـې د (حضرت) مفتي احمد يار خان (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) لاس نيولے دے- (انوارِقطبِ مدينه، ص 53 ) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ديدار کی بھيک کب بٹے گی　　منگتا ہے امّيدوار آقا

(ذوق نعت ، ص 66)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿15﴾ علاّمه کاظمي صاحب او د مدينے ازغے

غزالي زَمان حضرت علاّمه سيِّد احمد سعيد کاظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د مدينے منورې د وړومبۍ حاضرۍ پهٔ موقع باندې مې پهٔ ښپه کښې يو ازغے لاړو، د کوم سره چې راته سخت تکليف وو، چې راويستو مې نو د امامِ اهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِين وملّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مدينے د ازغي سره مَحَبَّت راياد شو نو زهٔ هم پهٔ هٰغه ځائے ودريدم او د ښپې نه مې ازغے اونه ويستو، ډيرې ورځې پس درد پخپله ختم شو- (انوارِ قطبِ مدينه، ص 53 ) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

ان کی حرم کے خار کشیدہ ہیں کس لئے
آنکھوں میں آئیں سر پہ رہیں دل میں گھر کریں
(حدائق بخشش، ص 98)

خارِ صحرائے نبی! پاؤں سے کیا کام تجھے
آ مری جان مِرے دل میں ہے رَستہ تیرا
(ذوق نعت، ص 25)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿16﴾ د وِصال نه پس د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ پهٔ دربارِ مصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې حاضري

قطبِ مدينه حضرت علّامه مولانا ضِياءُ الدّين احمد قادِري مَدَني رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ (د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د وفات نه پس واقعه بيانوي) او فرمائي: يو ځل زهٔ پهٔ مُوَاجهه شريف کښې د حاضرۍ د پاره د مسجدُ النبوِيِّ الشريف پهٔ "بابُ السَّلام" دننه داخل شوم نو څهٔ ګورم چې اعلیٰ حضرت، عظيمُ البرکت، عظيم المَرتَبت، پروانهٔ شَمعِ رِسالت، مُجَدِّدِ دين و مِلَّت، حامِي سُنَّت، ماحِي بِدعت، عالِمِ شَرِيعَت، پيرِ طريقت، باعثِ خَير و برکت، حضرت علامه مولانا الحاج الحافِظ القاري شاه امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د مُوَاجهه شريف پهٔ لور مخ کړے دے او ولاړ دے او صلوٰة او سلام لولي- زهٔ چې ورنزدې شوم نو اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ زما د سترګو نه غائب شو- زهٔ د مُوَاجهه شريف پهٔ لور لاړم او د صلوٰة او سلام نذرانه مې وړاندې کړه او عرض مې وکړو: "يا رسولَ الله! ما د خپل شيخ

(امام احمد رضا خان) د زيارت نه مهٔ محرومه کوې-“ سيّدي قُطبِ مدينه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي چې ما د مُوَاجهه شريف د ښپو مبارکو د اړخ نه وکتل نو اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مې وليدو، زهٔ پهٔ منډه ورغلم او د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ښپې مې ښکل کړې او زيارت مې وکړو- (انوارِ قطبِ مدينه، ص 238 ملخصاً) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِيۡن صلّى الله عليه واٰله وسلّم

غمِ مصطفیٰ جس کے سینے میں ہے
کہیں بھی رہے وہ مدینے میں ہے

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿17﴾ قطبِ مدينه او د مدينے غريب زيارت کوونکے

حضرت حکيم محمد موسیٰ اَمرتَسري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: پهٔ کومو ورځو کښې چې زه پهٔ مدينه منوَّره کښې حاضر ووم نو د سيّدي قُطبِ مدينه حضرت مولانا ضياءُ الدِّين احمد قادري مَدَني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پهٔ خدمت کښې به هم حاضري کيدله- د ډوډۍ پهٔ وخت به يو غريب سړے راتللو، ډوډۍ به يې خوړله او واپس به تللو- ما يوه ورځ پهٔ زړهٔ کښې سوچ وکړو چې دا سړے خامخا د ډوډۍ پهٔ وخت راځي او حضرت ته تکليف رسوي! هُغه ورځ چې کله محفل ختم شو نو سيّدي قُطبِ مدينه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ووفرمائيل چې حکيم محمد موسیٰ زما سره د ميلاويدو نه پس لاړ شه- زهٔ چې پهٔ خدمت کښې حاضر شوم نو اوئې فرمائيل: حکيم صاحب! دا

غریب ګس چې هره ورځ د ډوډۍ خوړلو د پاره راځي، دا د پاکستان د لائل پور (فیصل آباد) په ښار کښې په یو مِل کښې معمولي نوکر دے، د ده هر کال د مدینے د تاجدار، د زړونو د قرار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روضې مبارکې زيارت نصیب کیږي، ډیر خوش قِسمته دے او د مدینے منورې زائِر [یعنې زیارت کوونکے] دے، زهٔ ځکه پهٔ ده باندې ډوډۍ خورم-

(انوارِ قطبِ مدینه، ص277 ملخصاً)

د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيۡنۡ بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِيۡن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

تھکا ماندہ وہ ہے جو پاؤں اپنے توڑ کر بیٹھا
وُہی پہنچا ہوا ٹھہرا جو پہنچا کُوئے جاناں میں
(ذوق نعت، ص 191)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## هفته واره رساله مطالعه

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د شيخ طريقت امیرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه او خليفهٔ امیرِ اهلِ سُنّت الحاج ابو اُسَید عُبَید رضا مَدَني مدّ ظلّه العالی له طرفه هره هفته د يوې رسالې لوستلو يا اوريدلو ترغيب ورکولے کيږي. ما شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! لاکهونه اسلامي ورونه او اسلامي خويندې دا رساله لولي يا اوري او د امیرِ اهلِ سُنّت او خليفهٔ امیرِ اهلِ سُنّت د دعاګانو حقدار جوړيږي. دا رساله په آډيو کښې د دعوت اسلامي د ويب سائټ

Read and listen Islamic يا د www.Dawareislami.net

book ايپلي کيشن نه فري ډاؤن لوډ کيدے شي. د ثواب په نيّت يې پخپله هُم لوَلئ او د خپلو مرحومينو د ايصالِ ثواب دپاره يې تقسيموئ هُم.

(هفته واره رساله مطالعه)

978-969-722-669-6
01082499

فيضانِ مدينه، محلّه سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net